بدلون

# د قرارداد د موضوعي ماليې د حد بدلول

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست
ریاست عمومی عواید
Afghanistan Revenue Department

## د قرارداد د موضوعي ماليې نوی حد د ماليه ورکوونکي د منښت لګښت راکموي

د يوه قراردادي د څو ورکړو د ۵۰۰۰۰۰ افغانيو بشپړ مبلغ د ډيری قرارداديانو د ورکړو دفعې راکموي.
د عوايدو لوی رياست د قرارداد د موضوعي ماليې په موخه د کال په موده کې د څو ورکړو د بشپړ مبلغ حد له ۵۰۰۰۰ افغانيو څخه ۵۰۰۰۰۰ افغانيو ته لوړ کړی دی او دغه پريکړه د مالياتي کال (۱۳۸۸) څخه پلې شوې ده.
د قرارداد مالياتي حد د ۱۳۸۸ لمريز کال پر عايداتو باندې د مالياتو قانون مطابق د قرارداد د موضوعي ماليې په ورکړه کې د ماليه ورکوونکو وخت او لګښت کموي.

دا مالياتي حد هغه وخت تطبيق کيږي چې د يوه قراردادي د څو ورکړو بشپړ مبلغ ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ او يا له هغه زيات شي. ورکړې ورکوونکی له دې نه زيات مبلغ څخه بايد د قراردادي په استازيتوب د ورکړو ترلاسه کوونکي د وضعيت له مخې دا چې کاري جواز لري يا نه، ماليه وضع او هره مياشت بې ورکړي.

## فيصدي

ورکړې ترلاسه کوونکی هغه شخص دی چې د وړاندې شويو خدمتونو يا مالونو په بدل کې ورکړې ترلاسه کوي. هغه څوک چې قراردادي ته ورکړې ترسره کوي د مالياتو قانون له مخې کاري جواز لروونکي شخص يا شرکت ته د ورکړې وړ مبلغ څخه ۲ سلنه او کاري جواز نه لروونکي شخص يا شرکت ته د ورکړې وړ مبلغ څخه ۷ سلنه ماليه وضع کوي.

## په هر قراردادي باندې تطبيق کيدوونکی مالياتي حد د جلا حساب په توګه تعقيب کيږي-

ورکړې ورکوونکی د مالياتو قانون له مخې د قراردادي په استازيتوب د هغه څخه د ماليې په وضع کولو او ورکولو مکلف دی. د ورکړې ترلاسه کوونکی د عايداتو د ماليې د ورکړې پر مهال د دغه مبلغ په بدل کې د مجرايي غوښتنه کولی شي. ورکړې ورکوونکي بايد هر يو قراردادي د انفرادي حسابونو په توګه تعقيب کړي او د ۵۰۰۰۰۰ افغانيو حد پر هر ماليه ورکوونکي باندې پلې کيږي. ورکړې ورکوونکی ښايي يو شمير زيات

قراردادیان ولري او هغوئ باید د انفرادي حسابونو په توګه په جلا توګه تعقیب کړي.
که چیرې په کال کې د څو ورکړو بشپړ مبلغ د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو څخه کم وي، په دې صورت کې ورکړې ورکوونکی باید د ورکړې ترلاسه کوونکي په استازیتوب موضوعي مالیه ورنکړي خو بیا هم باید یادداشت او اړوند سندونه وساتي. لوړ مالیاتي حد د ټاکلي حد رسیدو تر مهال د ځانګړي قراردادي د میاشتنۍ موضوعي مالیې د ورکړې اړوند لګښت راکموي.

د ورکړې ورکوونکي او ورکړې ترلاسه کوونکي تر منځ هره یوه معامله چې په کې ورکړې ترلاسه کوونکي(هغه څوک چې ورکړې ورته ترسره کیږي) ته په کال کې د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو له حد څخه زیات مبلغ ورکول کیږي(په دې اړه دا مهمه نه ده چې دغه مبلغ د یوې معاملې یا د څو معاملو د ورکړو په پایله ورکول کیږي) یاده شوې معامله د همدغه مبلغ لپاره د موضوعي مالیې تابع ده او له دې وروسته په میاشت کې یو ځل مالیې تابع کیږي.

## د قرارداد د موضوعي مالیې مالیې حد ولې لوړ شوی دی؟

په کال کې د قرارداد د موضوعي مالیې پخواني د ۵۰۰۰۰ افغانیو حد په دواړو مالیه ورکوونکو او مالیاتي اداري باندې منفي اغیزه درلوده او په دې سره د ورکړو او مالیاتو راټولولو لګښت زیاتیده:

- د مالیه ورکوونکي اړوند اغیزه، په کال کې د پخواني د ۵۰۰۰۰ افغانیو مالیاتي حد د فعالیت د اجراکولو لګښت زیات کړی او د مالیه ورکوونکي د وینا پر بنسټ مشتریانو ته د مال یا خدمتونو وړاندې کولو نرخ لوړ شوی دی.
- د مالیاتي اداري اړوند اغیزه، په کال کې د پخواني د ۵۰۰۰۰ افغانیو مالیاتي حد سره د مالیاتو د راټولولو لګښت زیات شوی دی. که چیرې به د ورکړې مبلغ لږ یا ډیر ؤ خو د مالیاتو د راټولولو لګښت به تر یوې اندازې یو شان ؤ.

## مالیه ورکوونکي او مالیاتي اداري ته د لګښت کمول

مالیاتي حد باید مالیه ورکوونکي ته د ورکړو او مالیاتي اداري ته د مالیاتو د راټولولو د دفعاتو په کمولو سره اداري لګښت راکم کړي.

لومړی، د عوایدو لوی ریاست به د مالیاتو د کوچنیو مبلغونو د پروسیس او مبلغونو راغونډولو دفعات او اړوند عملیاتي لګښتونه کوم چې معمولاً له ورکړو څخه زیاتیږي، راکم کړي او ،

دوهم، د عوایدو لوی ریاست بیا هم عواید ترلاسه کوي ځکه چې د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو څخه د ټیټ حد د ورکړو ترلاسه کوونکي اشخاص که څه هم د قرارداد موضوعي مالیه نه ورکوي خو د هغې په بدل کې مجرایي هم نشي ترلاسه کولې او د عایداتو مالیه ورکوي. په ورته وخت کې، د ورکړې ورکوونکی به د موضوعي مالیې د میاشتنیو ورکړو د زیاتو دفعاتو او په دې توګه د زیات لګښت څخه خلاص شي.

نوی مالیاتي حد یوه بله بیلګه ده دا چې د عوایدو لوی ریاست څرنګه قانون ته د غاړې ایښودنې وضعیت ته پیاوړتیا ورکوي او د اداري اصلاحاتو په راتګ سره د دواړو خواؤ د ګټې په پام کې نیولو سره د مالیه ورکوونکو او مالیاتي چارواکو تر منځ د اړیکو ټینګولو له مخې د خدمتونه کچه لا ښه کوي.

که چیرې مالیه ورکوونکي اضافي معلوماتو ته اړتیا لري، کولای شي د د عوایدو د لوی ریاست ویب پاڼې www.ard.gov.af کې پر عایداتو باندې د مالیاتو لارښود کتاب ۷۲ مادې ۴ فقرې ته مراجعه وکړي.

001E 01 03 2012